مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهاند محمد بشیر دودیال
۲۰۱۹/۰۱/۱۴

# سیمه ییز اقتصاد، اړتیا او له دې پلوه په سیمه کې د افغانستان دریځ

لمړی برخه

> *"...اوس افغانستان د منځنی آسیا او جنوبی آسیا یوه مهمه برخه ګرځیدلی او هیڅوک یې له اهمیت څخه سترګی نشی پټولای..." دوکتورمحمد اشرف غنی*

**سریزه**



انسانان څه په فردي ډول او څه هم په ټولنیزډول یوبل سره راز راز روابط لري. دغه روابط د تاریخ په اوږدوکي پیچلی او هراړخیز شوي دي، له بلې خوا د ټولنو، هیوادونو، سیمو او مناطقو ترمنځ اقتصادی معاملات، راکړې - ورکړې، کلتوری اړیکي، حقوقی اړیکي او یو بل سره تګ- راتګ هم په عرف کي او هم په مدونوقوانینو او اصولو کي منل شوي دي. په تیره بیا اقتصادی مناسبات او د مناطقو او سیمو ترمنځ تولید، د خدماتو د عرضی او د اقتصادی پوتانسیلونو توپیر منطقوی ترلتیا رامنځته کړی ده. کله چې د اړتیاوو له مخي دغه ډول ترلتیا رامنځته شی، دي ته سیمه ییز اقتصاد ویل کیږی. سیمه ییز اقتصاد د اقتصاد د علم یوه څانګه ده چي د یو اقتصاد جغرافیایي جوړښت تر څیړنی لاندې نیسي. په تیره بیا په سیمه کي ترانسپورت، د صنعتي موقعیتونو امکانات ، اقتصادی پوتانسیلونه، د سیمي نسبی مزیتونه، منطقوی تحلیل او د صنایعو ځای پرځای کول (Industrial location)، سیمه ییزه پرمختیا، د تولید په داخلی مقیاس سپما، ښاري کیدنه (urbanization)،مهاجرتونه (Migrations)او د ځمکي څخه ښه ګټه اخیستنه څیړي. یوه ځانګړی اقتصادی منطقه هغه تاکلی بُعد یا دځمکي یا اوبو(سمندر) یوه په مقیاس سره په نښه شوې ساحه ده چي د فزیکي،انساني، اداری او وظیفوي مشخصاتو پر بنیاد سره بیلیږي. د دي ډول منطقي په فزیکي مشخصاتو کي یو شمیر فزیکی شاخصونه لکه ځنګلونه، هوارې سطحي، منرالي سرچینې، دمناقلاتو لپاره د لارو امکانات او اقلیمي فکتورونه شامل دي. حال دا چي په انساني مشخصاتو کي، د سیمی د کار ځواک مهارتونه، تجربه، تاریخي ،توریستي اومذهبي ارزښتونه او ځانګړتیاوی مطالعه کیږي. په وظیفوي مشخصاتو کي د کاروبار جریانات ،لوایح او مقررات، میډیا اوداسي نور فکتورونه په پام کي وي. د ذکر شویو مشخصاتو او د اقتصادی پوتانسیلونو له مخي هره منطقه بیله بیله ځانګړنه لري، نو دهرې منطقي اقتصادي او منطقه یی پرابلمونه هم سره توپیر لري، نو له همدې امله منطقه یی اقتصاد ته اړتیا پیښیږی، چي د نوموړي علم څخه په ګټه اخیستني سره دهرې منطقي لپاره پلان جوړاو داسي نورې اړیني کړني ترسره شي. د منطقه یی اقتصاد د ودې او پالیسي جوړولو موضوعات معمولاً د اقتصادی اغیزمنتوب او د اقتصادی او ټولنیزی برابری له مخې تر کتني لاندې نیول کیږی. په منطقه یی پالیسي جوړونه کي د اغیزمنتوب (موثریت) هدف مهم رول لری. له نیکه مرغه اوسنی وخت کي دافغانستان سیمه ییز دریځ له دې پلوه پوره پیاوړی شوی دی. د وچي پنځه بندرونه، د چابهار دبندر فعالیدل، په سیمه کي د یوې لار یو کمربند لویه پروژه او د لاجوردو دپروژې پرانیتسل کیدل ډیر نیک زیری دی. دلته به په همدې موضوع رڼا واچول شی.

**سیمه ییز اقتصاد یعنی څه؟**

سیمه ییز اقتصاد هغه علم دی چي د فضایي بُعد Spatial Dispersion او داقتصادی فعالیتونو Economic Activities اړیکي تحلیل او مطالعه کوي او د سیمي د اوسیدونکو داقتصاد دښه والی لارښود نه کوي.

یا: سیمه ییز اقتصاد داقتصاد دعلم یوه څانګه ده چي په یوه ځانګړې منطقه کي دمربوطه سیمي د اوسیدونکو اقتصادی مسایل او ددوی ترمنځ اقتصادی اړیکی او راکړې- ورکړې او په مناطقو کي دتصدیو تاسیس څیړي. دهمدې ضرورت له مخي سیمه ییز اقتصادی سازمانونه ، سیمه ییز بانکونه، سیمه ییز بازارونه ، سیمه ییز یامنطقوی ترانزیت او ترانسپورت او داسي نور مسایل رامنځته شوي دی. ددغي ځانګي په مطالعي سره هره منطقه خپل اقتصادی مزیت،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

رجحانات او دریځونه ټاکي او داقتصادی قوانینو له مخي دخپل مفاد اعظمی کولو او د اجناسو او خدماتو په مبادله لاس پوري کوي. دسیمه ییز اقتصاد له مخي، یوه ځانګړی سیمه او حوزه په ډیر ښه ډول سره خپل نسبی مزیت سنجوی او دهغي له مخي یوي بلي سیمي، منطقي یاحوزي سره دتبادلي انډول تامینوي. دمناطقو جغرافیاوي خصوصیات او دکار ځواک اندازه او مهارت، طبیعی او اقلیمی شرایط اومنابع، دترانسپورت سهولتونه اونورعوامل د دې لامل کیږي چي دمناطقو او سیمو ترمنځ دپوتانسیل او ظرفیت له مخي ژور توپیر رامنځته شي. د دې موضوع داهمیت له مخي دسیمه ییزو مطالعاتو مراکز او منطقوي سازمانونه رامنځته شوي دي. دآسیا په هغه برخه کي چي زمونږ هیواد، افغانستان موقعیت لري،هم دغه موضوع صدق کوي. دغه سیمه دخپلو طبیعی اوجغرافیاوي ځانګړتیاوو له مخي یوخاص دریځ لري. افغانستان دجنوبی آسیا اومرکزی آسیا وصلوونکی نقطه ده، له ډیرو پخوا وختونو څخه افغانستان او دافغانستان تجارتی مسیر دسیمي هیوادونو ته ډیر اهمیت درلود. په لرغونو وختونو کي د وریښمو سوداګریزه لاره له افغانستان څخه تیریدله او لرغونی آریانا د تمدنونو زانګو ، دکاروانسرایونو او تجارتی بهیرونو څلورلاري او د کلتوری او مذهبی مراکزو ټاټوبی و. اوسنی وخت کي افغانستان ته دآسیا دزړه (Heart of Asia) په توګه کتل کیږي. اوس په سیمه کي ECO،SCO، SAARC او داسي نور سیمه ییز(منطقه یی) سازمانو رامنځته شوی چي افغانستان دهغو غړیتوب لري. ددغو سازمانو یوهدف یا اساسي هدف اقتصادي روابط او تجارت دی. نن ورځ په پراخه کچه د Eru- Asia منطقي څخه خبري کیږي. چي په دې کي هم دافغانستان موقعیت او دریځ ډیر مهم دی. له دې پرته اوس افغانستان په WTOکي غړیتوب ترلاسه کړي دی. په دغه سازمان کي به زمونږ دهیواد غړیتوب هغه وخت ډیر ګټور وي چي له منطقوی پلوه خپل نسبی او مطلق مزیت وپیژنو او په منطقه کي دیوفعال شریک په توګه یوه سنجول شوي پالیسی ولرو. د دغي پالیسي موخه باید په همدغه ځانګړی جغرافیاوي سیمه کي داقتصادي کړنو رونق اوزیاتول وي. دې ډول سیاست ته Regional policy ویل کیږي. د یره پرځای وه چي دافغانستان ولسمشر په خپله یوه وینا کی،دګاونډیو هیوادو مشرانو ته ویلی و:
(...راځئ چي خپله سیمه د تروریزم او مخدروه موادو د تولید له سیمي د تجارت اوتمدن په څلور لارې بدله کړو...)
په عمومي ډول دمنطقوي پالیسي موخي په بیلابیلو سطحو اولیولونو شرح کولای شو. په لوړه کچه(دنړی مختلفو منطقوکي)، په متوسطه کچه(د براعظمونو او هیوادوترمنځ) او په محلی کچه(دهیواد دننه ولایاتو کي). دټولو موخي له عمومي پالیسیو سره یو ډول دي، لکه په وده ، ګټي ، برابري، ثبات ،دژوند څرنګوالی او مدنی چارو کي برخه اخیستنه. له دې ټولوسره دبرابري او مناسبي پالیسي لاربښوونه کیږي دا ډیره پراخه او ډیره عمومي ده. په نتیجه کي دا په زړه پوري ده چي دفرعي موخوشمیره مشخصه شي،کومي چي له فضایي پالیسیو سره نیغي اړیکي لري. دا داسي مطالب لري لکه دمحل کفایت ، دسیمو ترمنځ دسرې سر عواید (PCI )، چي دملي او عمومي خدماتو اغیزمنتوب ښکاره کوی. په دې کي فرعی معیارونه هم شامل دي . په عمومی پالیسو کي د یوې سیمی ټول وګړی شاملیږی، دې ته پاملرنه نه کیږي چي هغوی چیرته هستوګنه لري، په دې کي دسیمو ترمنځ دنقل مکان (مهاجرتونو) داندازې ستونزه هم حل کیږي. دکارګرانو کمبود هم حل کیږي. دذخیري او غوښتني موجوده اجتماعي پانګي ارزونه کیږی او موثریت یې زیاتیږي، دمحیط پاکوالی دټولو لپاره او نور. په همدې ډول دا فرعي اهداف نور هم دمشخصو اهدافو لپاره ارزښتمند کیږي، لکه دسیمو ترمنځ دعوایدو دنابرابري کمیدل، له محلی سرچینو څخه ډیره ښه استفاده او نور مسایل. دا دوخت په ټاکلی دوره کي راځي. یا دانعطاف وړ موخي لکه د محل په تصدیو او د اقتصادی فعالیتونو په شمیرکي نور زیاتوالی ،مثلاً ، داستخدام د کچي لوړول، یادسرې سر عواید. دسیمه ییز اقتصاد او منطقه یی پالیسیو په بحث کي دهیوادونو اوسیمو روابط، جغرافیاوي ځانګړتیاوې، اقتصادي ریزرفونه،دخلکو کلتور پیژندنه او دترانزیت دمسایلو مطالعه هم شامله ده.
سیمه ییز اقتصـاد لکه له نوم څخه یې چي ښکاري، دسیمو او مناطقو په حدودو کي اقتصـادي مسـایل څیري. په دې توګه له اقتصــاد څخه پرته دمناطقو جغرافیاوي خصــوصــیات، دمناطقو پیداوار، خلک، اقلیم، اړتیاوی، ســرچیني او نور هغه عوامل چي په اقتصاد کي مهم دي، را اخلی او پکي شامل دي.

**منطقوي تحلیل Locational Analysisاو سیمه ییز اقتصاد**

منطقوي تحلیل په اصل کي دمنطقوي اقتصاد مرکزي پوښتنه ده.د وان تونن "von thunen" ،ویبر "Weber" ،لوسچ "Losch" ،کریسټالر "Cristaller" او نورو دپخوانیو څیړنو په اساس ، سیمه ییز تحلیل دهغو تیوریکي مشارکتونو او تجربوي څیړنو دموثرې لړۍ په انکشاف کي خورا برياليتوبونه ترلاسه کړل ، ددې لپاره چي هغو پوښتنو ته کافي ځوابونه ووایي چي په یو ورکړل شوي فضایي سیستم کي ځانګړي فضایي فعالیتونه چیري او ولي واقع کیږي ؟ نو ، دسیمه ییز اقتصاد په مطالعه کي منطقه یی تحلیل مهم دی.په دې مضمون کي کیدلای سي چي د تحلیل مختلف روشونه متمایز شي :
لومړی باید دیوې ساحې په مفهوم او دفضا په عنصر باندې غور او دقت وشي،دغبرګونونو یادونه وشي "دفعالیت، یو نواختي ،تجانس یا د اداري اصولو په اساس" او داسي نور ټکی باید روښانه شی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

په دې وروستيو کلونو کي په فضايي سيستمونو باندي درسمي روشونو لوري ته علاقه زياته شوه. "دبيلگي په ډول ، دملتونو په واسطه دسيستمونو له تيوري څخه استفاده ، منطقه يی مجموعي تيوري، توپولوژي او نور".
د تل په شان ، زياتره انتزاعي مشارکتونه داندازه گيري له تيوري څخه په پراخي استفادي سره جوړ شويدي او کيدلای شي چي په دوو موازي سيستمونو کي ديوې مشابه لاري په توگه مشاهده شي. "لکه بيولوژي او اروايوهنه" نو سيمه ييز اقتصاد او جغرافيه، سيمه ييز اقتصاد او حقوق، سيمه ييز اقتصاد او د طبيعی منابعو پيژندنه همدومره يوبل سره نژدې دي.
دويم داچي د کاروباريانو(تشبث کوونکو) او کورنيو سيمه ييز تصميمونه بايد په نظر کي ونيول سي. تشبثي تصميمونه دمغلق صنعتي تحليل ، دودې دمرکز دتحليل ، دثقل او آنتروپي ډيناميک سيستمونو د څيړني او تحليل په عملياتي چوکاټ کي اجرا اوعملی کيږي.
کله چي د يوه نظري بنسټ له مخي دعملياتي کټورتوب دموډلونو دوسايلو په واسطه دهستوګني دسيمو ستونزي دمفيدوالی له نظره څيړل کيږي، نودعامه هستوګنځايونو ستونزي هم ديوې متحدې فضا يا شبکي له نظره تر څيړني لاندي نيول کيږي.
علاوه پردې ، وروستی منطقه يی تحليل په زياتيدونکي ډول دانتخاب په تفصيلي موډلونو باندي استوارې دي. "لکه لوګارتيمي او احتمالاتي موډلونه". دغه موډلونه هغه زيات سنجول شوي تحليل ته ارزښت وربښي ، چي کيدلای شي مختلف منطقه يی- فردي ټاکونکي عوامل "دکيفي فکتورونو په شمول" په نظر کي ونيول شي. وروسته ،دتشبث کوونکو او کورنيو مشترک تصميمونه ديو فضايي اقتصادي تعادل په موجوديت باندي موافقه کوي.
دکم موندل کيدونکو سرچينو او دهغوی دفضايي موقعيتونو تخصيص ،په عمومی ډول يوه مغلقه ستونزه ده چي کيدلای شي مختلفو تعويضي امکاناتو ته شامله شي، په داسي ډول سره چي کيدلای شي ديوه پيچلي تجارت پوښتني هم راولاړې کړي. وروستي مشکل هم په هغه صورت کي خورا شديد دی چي "Spatio" بُعد اوزماني ډيناميک کوم چي دجوړښتي تغييراتو په واسطه منځته راځي ، په نظر کي ونيول سي.
دلته بايد دغير خطي ډيناميک پروسو وقوع په ځانګړي ډول په نظر کي ونيول سي. کيدلای سي چي دغه پديده په يو څو بُعدي ډيناميک اقتصادي سيستم کي غير متوقع ناوړه نتايج رامنځته کړي. د دې د معقوله نتيجی لپاره پوره تحيل او دقت ته اړتياده.

**منطقوی اقتصاد او سوداګري**

سوداګري او تجارت له يوې سيمي بلي ته دخلکو داړتياوو دپوره کولو لپاره د اجناسو اوخدماتو ليږدول او عرضه کول دی. يعنی داجناسو اوخدماتو تبادله کول تجارت دی. دغه تبادله دسيمو اومنطقو ترمنځ صورت نيسی ، نو کله چي د منطقو خبره راځي، خامخا منطقه يی اقتصاد ورسره علاقه لري. د منطقو ترمنځ د تجارت لپاره د ضرورت مهم لاملونه دادي:

**لومړی) په زياته اندازه توليد:**

ممکن يوه منطقه ياسيمه دځانګړی ظرفيت اوغوره امکاناتو له امله ديو شمير اجناسو په توليد اوياهم ديو شمير خدماتو په عرضه کي غوره توب ولري، دوی خپل اضافی توليد دنورو سيمو داړتيا وو دپوره کولو لپاره چي دغه ډول ظرفيت او وړتيا نه لري، ور استوي په دې توګه تجارت داجناسو تبادله بلل کيږي.

**دوهم) طبيعی منابع:**

سيمي اومنطقي دخپلو شتمنيو او اقليم له پلوه يوبل سره توپير لري. د دغو شتمنيو څخه اضافه ترلاسه شوي توليد هغو سيمو اومنطقوته ورکول کيږي چي دغه ډول شتمنی نه لري. دبيلګي په توګه دخليج دمنطقي هيوادونه کافی اندازه نفت لری، دوی خپل نفت نوروتولو هيوادونو ته صادروي چي کافی نفت نه لري. دغي سيمي ته د نفتو دتوليد ساحه،منطقه، حوزه ياسيمه ويل کيږي. همداسي هم دنړی بيلابيلو برخو اوځيني وخت ديوه هيواد دننه ، يوشمير ځانګړی مناطق ديوه ځانګړی صفت يابل اقتصادی فعاليت لپاره جلاشوي وي .

**دريم) په لګښتونو کي توپير:**

که چيرې د يوې سيمي او منطقي ( د يوه هيواد دننه يا د څو هيوادونو په شمول) ترمنځ د اجناسو او خدماتو د توليد په لګښت کي توپير وليدل شي، نو د ټيټ لګښت لرونکي منطقه ځان دسيمي په سوداګری کی داخلوي.

**د منطقوی اقتصاد حدود**

دمنطقو دحدودو ټاکل( تحديد) يو اسانه کار نه دی. که څه هم هره منطقه بيلابيلي اقتصادي، اداري، تاريخي او نوري ځانګړني لري، خو بياهم په دې اړه کوم قناعت بخښونکي ضوابط وجود نلري. په دې برخه کي دنظرونو توافق هم حتمي شرط ندی ، مګر داقتصاد پوهانو او پلان جوړوونکو ترمنځ ځيني وخت په دې اړه چي ګواکي دغه ځانګړي حدود او سرحدات مناسب دي کنه ؟ اختلاف هم وجود لري، ځينی وخت بيا هيڅ اختلاف نه وی. په واقعيت کي، دمنطقو دقيق تعريف ديو داسي کابوس او د تشويش وړ ټکي په شان دی چي زياتره منطقه يی اقتصادپوهان ورڅخه دبې زړه توب لورته ميلان لري او په هغه صورت کي چي دوی مجبور وي چي په اداري سيمو باندي دپاليسي دملاحظاتو په اساس باندي کار وکړي او ياهم له نورو فضايي واحدونو څخه دهريو په اړه باندي معلومات او سوابق


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

موجود نه وي، د دې ستونزمن کار له کولو څخه ډډه کوي. لنډه دا چي دمنطقوی اقتصاد حدود تر یوې اندازې د سیمو او هیوادونو په تصصمیم پورې اړه لري. په دې اړه یو واحد تعریف وجود نلري، دتعریف انتخاب باید په لومړۍ درجه کي دڅیړني داهدافو پر بنسټ ترسره شي. دبیلګي په ډول که چیري سیمي په یوه بین الساحوي پلان جوړونه کي دغیر مترکزو ملي طرحو دیوې وسیلي په توګه مطلوبي وي،نو په دې صورت کي دسیمو لږ شمیر "مثلاً پنځه یا شپږ" مناسب دی. په دې حالت کي ، دمجاورت معیار خورا مهم دی. داخبره ددې معني ورکوي چي دسیستم ساحي باید یو له بل سره تداخل او ترکیب ونلري ،بلکي باید له ملي قلمرو سره مجاورت ولري. په دې ډول ، یو بین الساحوي سسیتم په ساده ډول دامعنا لري چي ملي قلمرو په یو ټاکلي شمیر مجاورو ساحوباندي وو یشل شي. دایو اسانه کار نه دی. دبیلګي په ډول دهسپانیي تجربه په نظر کي ونیسئ: دهسپانیي پنځوس ولایتونه دبین الساحوي پلان جوړوني لپاره زیات موثر دي. دغه ډول یوې تجمع ته اړتیا ده . بالاخره ،دتیرو دوو لسیزو یا له دې څخه په زیاته موده کي هسپانوي اقتصاد پوهانو او پلان جوړونکو دحدودو دمتبادلو تحدیدونو کره شمیرې وړاندي کړي. البته دپنځو او شلو سیمو په منځ کي .

کله چي اقتصادی سیمی د یو هیواد دننه په نښه شوی وی،هغوته سیمه یا منطقه (region ) نه، بلکي دولایت ( province) او ناحیي( district ) اصطلاحات کاروی، حال داچي دڅوهیواد ترمنځ د یوی اقتصادی سیمی جوړول سیمه ییز اقتصاد بلل کیږي.

سیزا مانسکي "Czamanski "1973، دسیمي "Area"، حوزې "Zone" او ناحیي "Region" داصطلاحاتو ترمنځ یو ګټور توپیر طرح کړ. سیمه "area" یوه عمومي اصطلاح ده چي ، دیوې دوه بُعدي فضا د یوې برخي معنا افاده کوي . او له همدې خاطره دفضایي اقتصادي څیړني لپاره زیاته ګټوره ده. دبیلګي په ډول دیوې بازاري سیمي مفهوم دامعنی لري چي یوه جغرافیایي ساحه په کومه کي چي دیوې ځانګړي تولیدوونکي منبع تولیدات پلورل کیږي.

زون په اصل کي یوه فني اصطلاح ده چي دهغه عرضی کمربند معنی افاده کوي کوم چي له یوې کرې څخه غوڅ شوی وي.مګر اوس مهال دهغي سیمي دتعریف لپاره استعمالیږي چي له هغي ساحي څخه بیلي ځانګړتیاوي ولري، کومه چي همدا سیمه یي احاطه کړیده. منطقه "Region" یوه خورا دقیقه اصطلاح ده "دتعریف له اغماض سره – سره " چي دملي اقتصاد[1] په داخل کي په هغي سیمي باندي دلالت کوي چي کومه په خپل جوړښت کي خورا جامع ده او په مستقل ډول عمل کولای شي اوزیاتو عملي مواردو کي داقتصاد له ستونزو سره پیاوړې اړیکي لري. تکراراً ویلای شو چي منطقه"Region" داسي یو انسجام لري کوم چي په تاریخي ډول په یوه فضاباندي استوار دی، په داسي ډول سره چي کیدلای شي دغه انسجام دزماني بُعد له نظره هم تعریف شي.

نتیجه: سیمه ییز اقتصاد Regional Economic د اقتصاد د علم د پراخه ډګر یوه هغه څانګه ده چي د منطقو اقتصاد، اقتصادی پوتانسیل، له نورو سیمو سره یي د اقتصادی اړیکو ټینګول او د سیمي اوسیدونکو د اقتصادی اړتیاوو پوره کول او په ځانګړو سیمو کی د ځانګړو منابعو تخصیص مطالعه کوي.

په بله وینا:

سیمه ییزاقتصاد په یوه ځانګړي فضایی بُعد کي اقتصادی فعالیتونه چي د اقتصادیت په موخه متمرکز شوی، څیړی. په دغه مطالعه کي ډیر مسایل شریک دی لکه: جغرافیه او جغرافیاوی خصوصیات، د پولو او سرحداتو پیژندنه، د منابعو دغوره تخصیص تخنیک، دعامل- حاصل تحلیل، د اقتصادي فعالیتونو ګاونډیتوب، ښاری او کلیوالی تشبثات بیلول، د مناقلاتو د اقتصاد مطالعه، د بین الساحوی او ساحوي پلانونو جوړول، له سیاسی واقعیتونو څخه خبرتیا او ناحیه بندی یا ناحیو باندې ویشــــنه. په دی توګه دا علم د کمپوزیت compositeیا مرکب دانش او تحقیق یو پایله ده، چي د سیمی د اوسیدونکو د ژوند د سټنډارډ د اوچتولو، د مفاد د اعظمی کولو او د لګښتونو د اصغری کولوپه موخه د یوی ټاکلی جغرافیایي ســـاحي او فضــــایي بُعد spatial dispersion تر چتر لاندی اقتصــــادي فعالیتونه څیړي.

**دمنطقوی اقتصاد اهمیت او موقعیت**

دمیلادي پنځلمســي اوشپاړلسمي پیړۍ په ترڅ کي په اروپاکي ( په تیره بیا په انګلستـان کي) داسـي نظریاتونه وده ورکړل شوه چي هرڅه یي په ثروت کي لټول او د دولتونو قدرت یي هم د سروزرو په راټولو کي ښوده، دمادیاتو راټولولو د دوي د اقتصـــــادی تفکر بنســـټ جوړاو چي دوی ته د مرکانلســــتانو نوم او مکتب یانظریاتوته یي دMercantilism نوم ورکړل شــو. دوی ســوداګری هڅوله او له لری اونږدې ســیمو څخه یي، د ســوداګری په واسطه دثروت راجمع کول موخه وه. اقتصادي چاروکي یي د دولت مداخله اعظمی حدته ورسوله . دوی په ناسیده توګه دولتونه دزیاتو زیرمواو منابعو لرونکو ســیموته څیر کړل. په پوهنتونو او علمی مراکزوکي داقتصـــــادی پرمختګ په برخه کي علمی څیړني پیل شوی او اقتصادي جغرافیي ځانګړی ارزښت ترلاسه کړ. دعلمی څیړنو په پایله کي دسیمو نسبی مزیت او مطلق مزیت څرګنداو بیلابیل مناطق دخپلو ځانګړو مزیتونو له امله دځانګړو اجناسو

[1] - کله کله داقتصاد او ملي اقتصاد کلمات سره مترادف وي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او خدماتو تولید او عرضی ته بیل کړل شول، دسیمو ترمنځ دمناقلاتو په اقتصاد بحث وشو او مقایسوی لګښتونه وسنجول شول. دلومړی ځل لپاره په ۱۹۱۰م. کال کې یو موډل وړاندې شو بیا د ۱۹۵۰ م. لسیزې په نیمایي کې منطقوی اقتصاد، دیوه تحلیلی چوکاټ په توګه مطرح او دهغه په پایله کې دمحل دتخصیص اود محل داستقرار نظریه رواج شوه. دبناري اقتصاد او دفضایي اقتصاد سیستم رامنځته کیدل دهمدغو څیړنو پایله ده .
تر ډیر وخت پورې دمنطقوی اقتصاد په ډګر کې هم دعمومي اقتصاد په منطق باندې چلند روان و. دتولید، لګښتونه، عواید او د نورو مسایلو سنجش لکه دعمومي اقتصاد په شان ترسره کید، خو وروسته داموضوع درک شوه چې په منطقوی اقتصاد کې دمحل اسقرار، دمناقلاتو د دایرې محدودیت، دتمرکز نقاط ، دعامل - حاصل بین المنطقوی تحلیل، دمزیتونو(Advantages ) مقایسه او داسې نور ټکی هغه څه دي چې له عمومي اقتصاد سره یې باید توپیر وشي. تجاربو ثابته کړه چې د منطقوی اقتصاد اهمیت په دې کې دی چې داقتصاد دعلم دغه برخه خپلې درې مهمې ساحې لري چې لږ وروسته به یې ولولو.

**د منطقوي اقتصاد پرمختیا**

د منطقوی اقتصاد تیوري او موډلونه او دهغو تطبیق او ترلاسه شوی تجارب د اوږدې مودې په ترڅ کې تر کتنې او مطالعې لاندې ونیول شول، تر څو یې چې اوس د یوې نوې او پرمختللې څانګې په توګه تبارز وموند. د دغه علم د پرمختګ لپاره بیلابیلو علماوو نه ستومانه کیدونکی زیار ګاللی دی. وان تونن( Johan Heinrich von Thunen) یو آلمانی اقتصاد پوه و چې د اقتصادی فعالیتونو او د سیمو د ګټورتوبونو له مخې یې سیمې او مناطق جلا کړل. نوموړی د مارکیټ او مرکزی بازار څخه د لرې والي یو موډل وښود چې له مرکزی بازار څخه د فاصلې په زیاتېدو مفاد کمیږی. نوموړي له ۱۷۸۴ څخه تر ۱۸۵۰ م. کال پورې ژوند کړی او د کلاسیکو اقتصاد پوهانو په ډله کې نامتو اقتصاد پوه و. ده لومړی د یوې سیمې کرنیزې ځمکی د کمربندونو په واسطه په مناطقو وویشلې او له مرکزي مارکیټ څخه یي د فاصلی له مخی د هغو تولید او کرایه وسنجوله . ده په حقیقت کې مناطق د ځانګړو تولیداتو لپاره وښودل ،
نیو کلاسیکانو ته هم د منطقی ټاکنه په زړه پورې وه. د بیلګې په توګه امریکایي اقتصاد پوه Robert Solow په ۱۹۵۶ او ۱۹۵۷ م. کلونو کی د منطقویتوب نظریه خپره کړه او د یوې منطقې د عرضې اړوندو عوامل یې څرګند کړل او د عرضې د عواملو سره یو ځای یي د تخنیکی عواملو پرمختګ او د کار د مولدیت د زیاتیدو نظر ورکړ. د کینز پیروانو په معاصروخت کې د تقاضا په عواملو ټینګار وکړ. دوی د تولیدي نتایجو لپاره په منطقه (سیمه) کې رقابت د اهمیت وړ وبالـه ا و Cumulative Causation (مجموعی ټول دلایل) او demand-based explanation (د تقاضا پر بنسټ توضیحات) یي د منطقویتوب لپاره دلایل راوړل او دا یې د منطقوی پرمختګ لپاره یوه آنګیزه وبلله.
د وان تونن له مهال څخه وروسته بیا صنعت او خدمات هم په څیړنو کې شامل شول. د هغه په موډل کی ویل شوي چې هغه تولیدات چې درانه او خرابیدونکی دی باید مرکزی مارکیټ ته لنډ تولید شی چې په لږ مصرف مارکیټ ته ورسیږی:
له وان تونن پرته، یو شمیر نورو پوهانو لکه رالی بارلو، ویبرهWeber، لوشLosch، او کرستلرCristaller هم د منطقه یی اقتصاد په هکله څیړنې او لیکنی کړی دی .
وان تونن دغه سیمی په A،B او C یا د اعدادو له مخې په 1،2،3... وښودې . د تونن برخلاف سیزا مانسکی (Czamanski) (۱۹۷۳) د سیمې (area)،حوزې (zone) او ناحیې (region) د اصطلاحاتو ترمنځ توپیر څرګند کړ. سیمه یا area یوه عمومی اصطلاح ده چې د یوی دوه بُعدی فضا د یوې برخې معنا افاده کوي. دغه ډول ساحه او سیمه ټاکنه د ټاکلي او معین اقتصادي فعالیت د ښوونې لپاره استعمالیږي. لکه هغه سیمه چې هلته یواځی بریښنایي وسایل پلورل کیږی، هغه سیمه چې د ژمی له خوا واوره پکې وریږی او داسې نور. ددې سره په توپیر کی زون Zone یوه فنی اصطلاح ده چې د کمربند او کربښو په واسطه تقسیم بندي شوی وي لکه د بیو زونونه چی لومړي زون کې بیې د دوهم او دریم په پرتله ارزانه وي. خو منطقه region بیا یوه کره او په نښه شوی پراخه ساحه ده چې هم په ملی پولو (سرحداتو) کی دننه او هم د څو هیوداونو څخه جوړه شوي وي. یعنی ملی او له ملي کچی پورته منطقی. دا یو فضایی بُعد دی چی اقتصادی فعالیتونه را نغاړی. دا هم باید ووایو چی د اقتصاد د علم له ډګر څخه بهر په عمومی خبرو کی د دوی توپیر هیڅاته مهم نه ښکاری او ورځنیو خبرو- اترو کی تل دا اصطلاحات یو د بل پرځای استعمالیږی.
نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ